بسم الله الرحمن الرحيم

**د افغانستان اسلامي امارات**

**د لوړو زده کړو وزارت**

**تابش پوهنتون**

**د ژورنالېزم پوهنځی**

**مضمون : ادیان او مذاهب**

**موضوع : کمونیزم ، سوسیالېزم ،کاپیټالېزم ،سیکولریزم !**

**تریبونکي : محمدالیاس ( ازره وال ) (عبدالرحمان) (خمینی) (خواجه فیصل)**

**لارښود استاد : استاد اسلم**

**پوهنتون : تابش پوهنتون**

**پوهنځی : ژورنالېزم**

**سیمیستر : څلورم**

**څانګه : راډیو تلویزون**

**د معلوماتو منبع : انټرنېټ ( ګوګل) (کتابونه ) (کروم) (ویبسایټ)**

## سیکولریزم څه ته وايي ؟

**سیکولرېزم چې یوه انګلیسي کلمه ده او معنا یې بې دیني ده په اکثره کتابونو کې یې اصطلاحي تعریف داسې شوی . د دین جدا کول د سیاست او دولت څخه عبارت له سیکواریزم څخه ده .**

**د سیکولریزم بنسټ ایښودونکی څوک وو : کوپرنیکس ، په شپاړسمه پېړۍ کې ژوند کاوو ، د پولینډ اوسیدونکی ،فیلیسوف ، او ساینس پوه وو په عقیده کې یې د انسان پر ځای لمر اشرف المخلوقات ګاڼه .**

**دیکارت : فرانسوي ساینس پوه دې نومړی انساني ذهن او عقل د هر څه خالق ګڼلی دې**

**ورپسې اسحاق نیوټن وو : چې د الله جل جلاله مخلوقات یې بې خالقه ګڼلي دي همدا رنګه لویژا ، فرانسوي ، فیوز باخ الماني ، نېچه الماني ، ډاروین برتانوي ، پال ساټر فرانسوي او ، پي جي ټایټ امریکایي هم د یادولو وړ دي . نو کله چې په اروپا کې د سیکولریزم نظریه رامنځته شوه ، او د تطبیق وړ وګڼل شوه نو د الله جل جلاله له عبادت او بندګي څخه یې انکار وکړ او د مادې عبادت یې پیل کړ .**

**اسلامي هېوادونو ته د سیکولرېزم د انتقال تاریخ .**

**۱ - مصر ته د فرانسویانو د حملې سره یو ځای سیکولریزم داخل شو . چې د دې حملې یوه برخه د سیکولریزم نشر او اشاعت وو په حقیقت کې د دې حملې وقعات د سیکولرېزم د اصطلاح پر محور راکرځېدل که څه هم په صراحت سره د سیکولرېزم په اصطلاحاتو تلفظ نه دې شوی خو د لومړي ځل لپاره په صراحت سره سیکولرېزم اصطلاح په اسلامي نړۍ کې**

**الیاس ( نصراني ) په قطر کې وکاروله ا و تر دغه عنوان لاندې په (۱۸۲۷) م کال کې د (معجم عربي فرانسي ) په نامه یو تالیف ترتیب کړ او نشر ته یې وسپاره په (۱۸۸۳) م کال کې خدوي اسماعیل دغه اصطلاح د فرانسې قانون ته په رسمي توګه داخله کړه د ده ارزو دا وه چې مصر د اروپا په ډول یوه ساحه جوړه کړي**

**۲ – هندوستان ته  په (۱۷۹۱) م کال کې سیکولرېزم انتقال شو ، د دې څخه مخکې په هندوستان کې د اسلامي شریعت موافق پرېکړې کیدلې د دې مفکورې په ننوتلو اسلامي شریعت د منځه تللو په حال کې شو البته دغه پلان د انګلیستان وو نو چې د ۱۹ پېړۍ په نیمایی کې د اسلام احکامو پر ځای د سیکولرېزم اصطلاح او مفکورې حاکیمیتتر لاسه کړ .**

**۳- الجزایر : په (۱۸۳۰) م کال کې چې کله د فرانسې نفوذ په الجزایر کې زیات شو اسلامي شریعت له منځه ولاړ او د لادیني ( سیکولرېزم ) فرهنګ په کې ژوندی شو .**

**۴- تونس : په ( ۱۹۰٦) م کال کې فرانسوي قانون تونس ته سرایت  ورکړ : چې په نتیجه کې یې د سیکولریزم لادیني روحیه را ژوندۍ شوه .**

۵ – **مغرب** په (۱۳۱۹) م کال کې فرانسوي قانون مغرب ته سریت ورکړ چط هلته هم د علمانیت (لایني) اصطلاح حاکیمیت پیدا کړ .

٦- **ترکیه** : په ترکیه کې اسلامي خلافت تر نړېدلو وروسته د کمال اتا ترک په واکدارۍ کې د سیکولرېزم روحیه راژونړی شوه . او دې کرغېړنې څېرې وربانې حاکیمیت پدا کړ .

۷ – **عراق او شام** : په عراق او شام کې د عثماني خلافت د له منځه تللو سره سم د انگریزانو او فرانسویانو پورگرام تطبیق شو شریعت له منځه ولاړ سیکولریزم او لادیني پکې رامنځته شوه .

۸ – **اندونیزیا** : په اندونیزیا او ټولو جنوب ختیځو هېوادونو کې کې سیکولریزم پوره حاکم ده .

**افغانستان !**

د (۱۹۲۸) کال د جون په میاشت کې چې امان الله خان د اروپا ترکې او روسې له شپږ میاشتني سفر څخه وروسته افغانستان ته راستون شو نو هېواد ته یې سیکولریزم راوړ ، د جمعې رخصتي یې د شنبې په ورځ بدله کړه . په کابل کې په ټول خلک دریشي اغوندي او د پیرنگیانو په څېر خولۍ به په سر کوي د میرمنو حجابونه یې بند کړل د کابل په جادو باندې ولیکل شول هېڅ ښځه له حجاب سره له دې ځایه نشي تېریدلی علماء یې بندیان

**کړل ډېر شرعي قوانين يې په غربي قوانينو بدل کړل او غوښتل يې چې په ټول هېواد کې غربي سيکولريزم پلې کړي : د سيکولرېزم مشهور بلونکي : په اسلامي نړۍ کې د سيکولريزم مشهوره داعيان : احمد لطيفي ، اسماعيل مظهر قاسم امين ، طه حسين عبدلعزيز فهمي ، انطوان سعادة سوکارنو ، سومارتو نهرو ، مصطفى کمال اتا ترک ، جمال عبدلناصر او انور السادات وو .**

**اسلامي نړۍ ته د سيکولريزم د انتقال عوامل : د سيکولرزيزم پلويانو له اوږدې مودې راهيسې د اسلامي نړۍ خلاف فکري جګړه پيل کړې وه ديني علماوو يې په وړاندې کلک مقاومت وکړ خو دا چې ټوله لويځه نړۍ د سيکولرستانو تر شاه ولاړه وه او په ټولو ډګرونو کې د دوی ملاتړ کاوه بالاخره په شلمه پېړۍ ميلادي پېړۍ کې هغه مهال دوی بريالي شول چې برتانيي په مشرۍ نړيوال قوتونو اسلامي خلافت له منځه يوړ او بيا يې زياتره اسلامي هيوادونه اشغال کړل دا چې څه ډول سيکولريزم اسلامي نړۍ ته راه انتقال شو د دې مختلف عوامل وو چې دلته يې ځېنې مهم را اخلو .**

**لومړی : په اسلامي نړۍ کې هغه ريښتينې اسلامي عقيده ډېره کمزورې شوه چې بنسټ يې په کتاب الله او سنت رسول ولاړه ده په دين باندې پوهه کمه شوه او مسلمانامو کې نوي نوي دودونه او بدعتونه عام شول د خواهشاتو پلوي زياته شوه مسلمانان اکثره له جهاد څخه په شاه شول ځينو خو ان جهاد د مسلمانانو په تاوان تعبير کړ .**

اسلامي نړۍ د ښمنانو له ډېرو سختو بریدونو سره مخ شوه . په پېل کې چې مسلمانان ځواکمن او په خپل دین ټینګ ولاړ وو د دوس بریدونه یې په شاه وتمبول او کلکه مقابله یې ورسره وکړه خو کله چې مسلمانانو له جهاد څخه مخ واړاوو او اسلامي فریضه یې پرېښوده نو د نړۍ ټول قوتونه د لېوانو په څېر پرې راټول شول غربیانو د اسلامي هېوادونو له اشغال سره سره عقیدوي جګړه هم پرمخ وړه . له بېلا بېلو وسایلو او نومونو څخه په استفادې یې د رسنیو او خپلو لاسپوڅو او ځینو ناخبره مسلمانانو له لارې په اسلامي نړۍ کې داسې فکري فعالیتونه وکړل چې مسلمانان ورڅخه مرعوب شول او په فکري توګه یې د دوی په وړاندې روحي شکست وخوړ او کله چې مستعمرین له اسلامي هېوادونو وتل نو دلته یې د سیکولریزم مفکوره پرېښوه چې د دوی له وتلو وروسته په ډېرو اسلامي هېوادونو کې د غرب په لاس روزل شویو سیکولرستانو او غربپانو د مسلمانانو سیاسي قیادت په لاس کې واخیست !

کاپیټالېزم څه ته وایي ؟

پانګوال کاپيټاليزم اقتصاي نظام بولي هغه اقتصاي نظام دې چې په هغه کې د اقتصاي نظام بنسټونه د توليدي وسايلو پر شخصي ملکيت استوار وي همدارنګه په دې نظام کې توليدي وسايل د خصوصي مالکانو په لاس کې دي او دا کار په رقابتي بازارونو کې د اقتصادي ګټو د رامنځته کولو لپاره کيږي د پانګوال اقتصادي نظام په مقابل کې کمونيستي اقتصاي نظام دې چې په هغه کې د سرمايه دارۍ برعکس د ځمکې منابعو او د توليد د وسايلو شخصي مالکيت نشته دې . د پانګولۍ د کليمې منشا پانګه ده او پانګه عبارت ده له : ځمکې شرکتونو او داسې نورو په دې قانون کې عايد لږ تر لږه دوه بڼې لري . سود، مزد، ګټه هغه چاته ورکول کيږي چې د توليدي وسايلو د مالکيت لپاره پانګه چمتو کړي په دې قانون کې ځمکه بشري ځواک اوسرمايه د ټولنې د يوې ډلې په اختيار کې ده او د ټولنې نور خلک له هغو څخه په مشروط ډول د مادي او معنوي توليداتو د توليد لپاره کار اخلي . همدا رنګه په دې قانون کې دا معمول دې چې اجاره د طبيعي زيرمو د کنټرول څخه د عايد په توګه وګڼل شي چې د نورو دوو قضيو څخه توپير لري . د پانګوال په قانون کې پانګه د توليد ، وېش، عايد، د توکو او خدمتونو عرضه او تقاضا د بازار په اقتصاد کې د انفرادي پرېکړو له مخې ټاکل کيږي . د سرمايه دارۍ قانون ښکاره ځانګړنه دا ده چې د توکو توليد په اصل کې د اقتصادي ګټې لپاره ترسره

کیـږي نــه د انســان د اړتیــاوو د پــوره کولــو پــه خــاطر بانــدې البتــه پ ځینــو مــواردو کــې ګټــې لاس تــه راوړل د انســان اړتیــاوو سره تــړاوو لــري . پــانګوال هغــه اقتصــادي نظــام دې پــه کــوم کــې چــې افــراد او یــا خصــوصي کاروبارونــه د سرمــایوي امتعــي مالکــان دي پیســې پــه اقتصــاد کــې مــالي سرمایــه ګڼــل کیــږي ځکــه چــې ګټــه او ســود غــواړي سرمایــه داي د منطقــي لارو او میتودونــو پــه کــارولو سره ګټــې لټــون او دوبــاره د همــدې ترلاســه شــوې ګټــې د پــانګونې روحیــه ده پــه یــوه پــانګوال نظــام ګــې هــر سرمایــه دار بایــد لــه ټولــو شــته امکانــاتو څخــه څخــه د اعظمــي ګټــې د ترلاســه کولــو لپــاره کــار واخــلي کــه نــه نــو لــه زوال او افــلاس سره بــه مــخ شي .سرمایــه داري یــو ټــولنیز نظــام دې چــې پــه هغــه کــې د تولیــد ویــش او تبــادیلې وسایل په بشپړ او بنسټیز ډول د افرادو ملکیت دې

د پــــــانګوال نظــــــام د پیدایښــــــــت پــــــــه اړه نظریـــــــات .

سرمایه داری په ۱۸ پېړی کې په انګلیستان کې وده وکړه او وروسته شمال لودیځې اروپا او شمالي امریکا ته خپره شوه دا پروسه د صنعتي انقلاب سره هم مهاله وه  د سارمایه داری د اصل او پیدایښت په اړه دوه ډوله نظریات شتون لري یوه ډله په دې باور دي چې کاپیټالېزم د اتلسمې پېړی له میخانیکي اختراعاتو څخه زېږیدلې ده چې شرکتونو د تولیدي ځواک د چټک زیاتولي او تولید شویو توکو د پلورلو لپاره د نویو بازارونو د لټون او په پایله کې د سوداګری او مالي بازارونو د پراخیدو لامل شو دویمه ډله بیا په وایي

چې سوداگریزې او مالیه پالونکې ظهور له صنعتي پانگوالي څخه مخکې وخت پورې تړاو لري چې دا نظریه تر ډېره حقیقت ته نږدې ده .




د سوسیالېزم اصطلاح یعنې ټولنپالنه او د ټولنې باور  د فرانسوي کلیمې د سوشل څخه اخیستل شوي چې د ټولنیزوالپه مانا لري لاتیني اصل یې د سوکیوز کلمه ده د ملگري او همکاري معنا لري . دسوسیالېزم اصطلاح په اساسي متنونو کې ډېره کارول کیږي مگر د ډیموکراسۍ او ازادۍ په څېر جامع تعریف نلري ځینې یې د برابرۍ عدالت او د بډایو

لـه خـوا د بـې وزلـو د اسـتثعمار د  پـاى تـه رسـولو پـه معنـا مطـرح كـوي او ځينـې يـې بيـا لكـه د سرمايـه دارى د پلوويـانو څېـر سوسـيالېزم د شخصيـ ملكيتونـو د ضـبطولو او د حكومـت لخـوا د خلكـو د شخصيـ ژونـد د سـخت كنټـرول پـه مانـا ګڼـي . د اكسـپورد انګليسيـ قـاموس سوسـيالېزم داسـې تعريفـوي . يـوه نظريـه يـا پاليسيـ ده چـې موخـه يـې عامـه ګټـو د خونـدي كولـو لپـاره د توليـد پـر وسـايلو پانګـه ځمكـه ملكيـت او داسـې نـور .... د ټـولې ټـولنې ماليكيـت نظـارت او مـديريت دې .  اسـټين رينـي : وايـي ( ( سوسـيالېزم هغـه نظـام دې چـې پـه هغـه كـې د توليـد وسـايل د توليـد وېـش تبادلـه او د تبـادلې وسـايل د دولـت ملكيـت دي او  د دولـت لخـوا پـرمخ وړل كيـږي پـه دقيقـه معنـا د سوسـيالېزم مخـالف ټكـي سرمايـه داري ده . پـانګوالي ( سرمايـه دار ) هغـه سيسـتم تـه وليـږي چـې پـه ټولنـه كـې د توليـد د ويشـلو او تبـادلې وسـايل پـه شخصيـ توګـه د شخصيـ مـاليكينو لخـوا اداره  كيـږي . سوسـيالېزم لپـاره د ډېـرو تعريفونـو پـه مـنځ كـې لانـدې تعريـف  د خـورا جـامع تعريـف پـه توګـه كيـږى .  سوسـيالېزم پـه سـاده مانـا يـو سـياسي اقتصـادي سيسـتم دې چـې پـه هغـه كـې حكومـت د پـلان جوړولـو لارې يـا مسـتقيم ډول د توليـد بنسـټيز وسـايل كنټرولـوي يـا پـه قـانوني توګـه د توليـد د بنسـټيزو وسـايلو مالـک دي پـه صـنعتي او ځينـي وخـت پ كرنيـزول پلـې كولـو هـدف د ټـولنې لخـوا د اړتيـا وړ توكـو د خـداماتو توليـدول دي نـه د هغـه څـه توليـد ول چـې ډېـره ګټـه سـود كـوي . كـارل مـاركس (١٨١٨) – (١٨٨٣) د سوسـيالېزم د نـوي فلسـفي (كمـونېزم ) ليكـوال دې چـې دغـه فلسـفه  يـې تنظـيمم كـړه او پ يـوه مدونـه ( ليكـل شـوې ) ايـډيالوژي يـې

بدلــه کــړه د (۱۹۱۷) کــال د اکتــوبر پــه میاشــت کــې د روســې انقــلاب مشرــ لینــین او لــه هغــه وروســته ســتالین د مارکسیســتي سوســیالیزم ملاتــړ وکــړ او پــه پخــواني شــوروي اتحــاد کــې یــې پــه عمــلي ډول پلــې کــړ او پــه بشــپړه توگــه یې یو مادیسوسیالیستي نظام یې رامنځه کۀ !ک

## کمونیزم څه وایي ؟

که غریب غریب نه  وای او شتمن شتمن نه وای داسې وگڼه چې ارزښتناک شیان لکه ځمکې او فابریکې د هر چا دي فکر وکړه چې هر چا کار کړی خو په بدل کې تادیه نشته . ولې ؟ ځکه هر څه به په وړیا توگه وي . د دې حرکت یا بدلون اساسي قاعده کونیزم دې . کمونیزم په لسو اساسي مادو ولاړ دې چې عبارت دي له .

۱ – د شخصي ملکیت فسخ

۲ – پر عایداتو باندې زیاته مالیه

**۳ – د میراثي حقوقو له منځه وړل بړ**

**۴ – د ملکیت د حقوقو ضبط**

**۵ – مرکزي بانګ**

**٦ – مخابرات او مواصلات کمونیکیشن او ټرانسپورټیشن دولتي کیدل**

**۷ – فابریکې او زراعت دولتي کېدل**

**۸ – په کارګرانو باندې د دولت کنټرول**

**۹ – صنعتي فارمونه او منطقوي پلان جوړونه**

**۱۰ – پر ښونه باندې د دولت کنټرول**

**کمونېزم څنګه رامنځته شو ؟**

**د کمونیزم نظریه (۱۸۰۰) کاله مخکې مشهوره شوې وه . په هغه وخت کې لویې فابریکې پالل کیدلې . د دې فابریکو کارکوونکو په ډیره کمه تنخاګانو باندې کار کاوو په عین وخت کې د فابریکو مالکان شتمن کیدل چې دغه کار د ډېرو خلکو غوسه راوپاروله دوه جرمني پوهان : کارل مارکس او فرید اېک انګلس د خلکو غبرګون ته سیاسي بڼه ورکړه .**

**په (۱۸۴۸) م کال کې لیکل شوی کتاب د کمونیست اظهار نامه کې د دې غورځنګ هدفونه څرګند کړي د ي مارکس او فرید اېک په دې نظر وو چې**

**په ټول تاریخ کې د مختلفو طبقو خلک جنګ ځپلي وو او هغه طبقه خلک چې زور یې لاره د تجارت څښتنان وو او نورو خلکو د دوی لپاره کار کاوو مارکس او فرید ایک ټولې نړی ته دا وړاندې کړه چې کارګو خلک د ټول تجارت مالکان دي دوی فکر کوو چې که چېرې کارګو ته د قېمت حد وټاکل شي د دې ضرورت شته چې باید هر څوک ښه ژوند وکړي مارکس په کتاب کې دا موضوع په ټوله معنا تشریح کړې ده . کمونېزم څنګه خپور شو : شوروي اتحاد دوهمه نړیواله جګړه وګټله او په (۱۹۴۵) م کال کې جګړه پاي ته ورسېده : شوروي اتحاد ډېرې اوروپایي هېوادونه د خپل تسلط لاندې راوستل په عین وخت کې په چین کط کمونیست رهبر ماو زیدونګ واک ته رارسیدو لپاره هلې ځلې تر سترګو کیدلې په (۱۹۴۹) م کال کې یې خپل لوی نفوس لرونکی هېواد چین ونیو او تر ټولو لوی کمونیست هېواد شو : کمونېزم ولې ناکام شو ؟ ډېرو غیري کمونیستي هیوادونو د کمونیزم د خپریدو پر وړاندې په جنګ لاس پورې کړی وو دوی وېره درلوده او د کمونېزم خپریدل یې غیرې کمونیسي هیوادونو ته لوي خطر وګاڼه . د امریکا متحده ایالاتو د دغې جګړې رهبري کوله په داسې حال کې چې شوروي اتحاد په ټوله نړی کې د کمونیستي حرکت کلک ملاتړي وو دغه هلې ځلې په ساړه جګړه بدلې شوې چې (۴۰) کاله سې دوام وکړ !**